# پرمختیا
اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

هیله بخښونکي خبرونه!

۱۲۱ مه گڼه    پنجشنبه    د کب ۸ مه    ۱۳۹۸


## د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر نن ملت ته د تیر یو کال حساب ورکړ




٤

### د کلیو الي اقتصاد د پیاوړتیا پروگرام د همکارو موسسو استازو د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پروگرامونو له معین سره ناسته وکړه



۲

### په ننگرهار کې د ۳۷،۸ میلونه افغانیو په ارزښت د یوې پروژې هوکړه لیک لاسلیک شو



۳

### په لغمان کې ٢٦٨٦ اړو کورنیو سره د خوراکي توکو مرستې پیل شوې



۳

### د کندهار په پنجوایي ولسوالۍ کې به د یوه ښوونځي جوړولو کار ژر بشپړ شي



۳



## په دایکندي ولایت کې له ۸ اړو کورنیو سره څه باندې د ٦٨ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

٥/ کب/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د دایکندي ولایت په مرکزي ولسوالۍ د بوکله کلي د پراختیایي شورا لخوا له ۸ اړو کورنیو سره څه باندې د ٦٨ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیزګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوي چې غوړي، اوړه، وریژې، چای، مکروني او بوره پکې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکو لخوا د بې وزلو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.

## د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د همکارو موسسو استازو د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو له معین سره ناسته وکړه

٦/ کب/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې ا و پراختیا وزارت د پروګرامونو د معین ښاغلي شهزار ځدراڼ او د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د همکارو موسسو د استازو ناسته ترسره شوه. لومړي د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام سرپرست اجرایوي رییس ښاغلي محمد وحید ابراهیمزاده د همکارو موسسو (COAR,CHA, AKF, ADA,FGA ) له استازو څخه د مننې ترڅنګ وغوښتل، چې په هغو ولایتونو کې چې د دوي لهخوا پروګرام پلي کیږي؛ د پروګرامونو محترم معین ته په بشپړ ډول د پروګرام د پلي کولو په اړه د خپلې تګلارې په اړه معلومات وړاندې کړي. له هغه وروسته د پروګرامونو معین ښاغلي شهزار ځدراڼ د همکارو موسسو استازو ته ښه راغلاست وویل او بیا یې د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د اقتصادي ستونزو په پام کې نیولو سره د پروګرام د همکارو موسسو استازو ته د معلوماتو ترڅنګ سپارښته وکړه، چې تاسو باید د افغانستان د کلیوالي دودونو په پام کې نیولو سره د پروګرام لپاره خپل خدمتونه په ډېر صداقت وړاندې کړئ. د پروګرامونو د معین له وینا وروسته د پروګرام همکارو موسسو استازو د خپلو تګلارو په اړه جوړ شوي پریزنټیشنونه په نوبت وړاندې او هرې موسسې د پروګرام د فعالیتونو د پلي کولو لپاره پخپلې اداري کې د جلا کاري ټیم د تشکیل یادونه وکړه. په پای کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو معین د همکارو موسسو له استازو څخه یو ځل بیا مننه وکړه او د هغوي په تګلارو کې یې د دې ټینګار وکړ چې تاسو باید په سیمه کې د خپلو فعالیتونو د ترسره کولو په موخه ځایي خلک استخدام کړئ، ترڅو په سیمه ییزه کچه د لوړو زده کړو لرونکو ځوانانو ته د کار فرصتونه په لاس ورشي، چې د همکارو موسسو استازو په دې برخه کې د ژمنو څرګندونه وکړه.





## په ننګرهار کې له ۱۲ اړو کورنیو سره څه باندې د ۲٥ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

٥/ کب/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د زاخیلو د پراختیایي شورا لخوا له ۱۲ اړو کورنیو سره څه باندې د ۲٥ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیزګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوي چې اوړه او جوار پکې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکولخوا د بې وزلیو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.

## په لغمان کې ۲٦٨٦ اړو کورنیو سره د خوراکي توکو مرستې پیل شوې

۷/ کب/ ۱۳۹۸

د لغمان ولایت دکلیودبیارغونې اوپراختیا ریاست او(RRDPO) انجیوله لوري چې دلغمان مرکزاړوند بیلا بیلوسیموکې چې پخوا سروې ترسره شوې وه ، داړوند سیمو دمحلي پرمختیایي شوراګانو له تاید وروسته ۲٦٨٦ کورنۍ چې ډیرې بیوزله وې په نښه شوې وې له یادو،کورنیو سره دنړیوال خوراکي پروګرام (WFP) په مالي لګښت اودکلیودبیا رغونې اوپراختیا ریاست په تخنیکي همکارۍ دمرستو لړۍ پیل شوه په دغومرستوکې چې وړه، دال، غوړي او مالګه شامل دي ددرې میاشتو لپاره له بیوزلو کورنیو سره ترسره کیږي.




## د کندهار په پنجوایي ولسوالۍ کې به د یوه ښوونځي جوړولو کار ژر بشپړ شي

۸/ کب/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې د کندهار ولایت په پنجوایي ولسوالۍ کې د شهید فضل الله اغا لومړني ښوونځي کار ۸۵ سلنه مخکې تللي او ډیر ژر به بشپړ شي. دا ښوونځي به ۸ ټولګي، ۲ اداري دفترونه، ۳ تشنابونه او د ۷۵ مترو په ژوروالي یوه څاه ولري، دا ښوونځي د هلکانو لپاره جوړیږي. د دې پروژې په بشپړتیا سره به د حاجي ګل محمد اغا کلي ۲۵۰ زده کونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شي.



## په ننګرهار کې د ۳۷،۸ میلونه افغانیو په ارزښت د یوې پروژې هوکړه لیک لاسلیک شو

۱۳۹۸/ کب/ ٥مه

د ننګرهار د کلیو بیارغونې او پراختیا رییس انجینر امان الله میاخیل او بهسودو ولسوالۍ د زنګویي سیمې د پشتون اباد پرمختیایي شورا ترمنځ د ۳۷،۸ میلونه افغانیو په ارزښت چې لس سلنه یې ولسي ونډه ده د ۱۲۸۱ مترو په اوږدوالي د یوه استنادي دیوال جوړیدو هوکړه لیک لاسلیک شو.

دغه استنادي دیوال په درې برخو کې چې لومړۍ برخه یې ٤٤٥ متره ، دویمه برخه یې ۳۷۵متره او دریمه برخه یې ٤٦١ متره اوږدوالي لري جوړیږي چې د جوړیدو چارې به یې په یوه کال کې بشپړې شي.

ددې دیوال په جوړیدو سره په سلګونو کورونه او یوه اندازه کرنیزې ځمکې د سیلابونو له ګواښ څخه خوندي کیږي.



# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر نن ملت ته د تېر یو کال حساب ورکړ

۱۳۹۸/ کب/ ۵

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي، نن دوشنبه د حکومت د رسنیو په مرکز کې ملت ته د دولت د حساب ورکولو مطبوعاتي ناستې ته د وزارت د تېر کال د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه مالومات وړاندې کړل.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر په دغه کنفرانس کې وویل وزارت په تېر کال کې په ټول هېواد کې ۵۲۷۹ پروژې د برېښنا، څښاک اوبو، کرنیز اوبه خور سیستمونو، ترانسپورت او د کلیو د اقتصادي پرمختګ په برخه کې تطبیق کړي دي، چې ۹،۲ میلیونه کاري ورځې رامنځته شوې او ۱۱ میلیونه هېواد وال ترې ګټه اخلي.




د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزیر زیاته کړه، اوس مهال د ۸۷۶۱ نورو پرمختیایي پروژو چارې، چې ۱۶ ملیونه کاري ورځې به برابرې کړي او ۱۵ میلیونه هېوادوالو ته به یې ګټه ورسیږي، روانې دي.

د ښاغلي کریمي په وینا د کونړ سیند له ۵۰ کیلومترو استنادي دیوالونو څخه د ۱۸۱۷۸ مترو په اندزه دیوال د جوړولو چارې روانې دي، چې تر اوسه یې ٦٢ زره کاري ورځې ځایي خلکو ته رامنځته کړي او ۱۵٦۹ هکتاره کرنیزه ځمکه یې د سېلابونو له ګواښه خوندي کړې ده.

دغه محافظوي دیوال چې د ولسمشر په ځانګړې سپارښتنه جوړیږي، د سیند د دواړو خواوو ځمکې له ویجاړېدو ساتي او ۵۲۰۰ هکتاره شاړه ځمکه به بېرته په کرنیزه ځمکه بدله کړي، چې ارزښت یې ۲۷ ملیارده افغانیو ته رسیږي. دا پروژه به په سیمه کې ۱۵۰۰۰ کسانو ته دایمي کار هم پیدا کړي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر همدا شان وویل، ډیر ژر به وزارت د کندهار ولایت په ارغنداب، ژړې، دامان، ډنډ، پنجوایي او شاه ولي کوټ ولسوالیو کې د اوبو لګولو ۱۲۹ شبکو د جوړولو چارې پیل کړي، چې ۸٦ زره هکتاره ځمکه به د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راولي، ۱،۵ میلیونه کاري ورځې او ۸۵۰۰ دایمي بوختیاوې به رامنځته کړي.

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزیر همدارنګه زیاته کړه چې د ۲۲۵ ښوونځیو کار د هېواد په ۱۷ ولایتونو کې د اقرآ پروژې په چوکاټ کې بشپړ شوي او د ۷۱۵ نورو ښوونځیو کار به ډیر ژر بشپړ شي . ددې ترڅنګ د ۱۵۲۸ ښوونځیو د ودانیو د جوړولو چارې روانې دي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت به د سعودي عربستان په مرسته د هېواد په دوو ولایتونو پکتیا او کونړ کې ۲۰۰ نور ښوونځي هم جوړ کړي.

ښاغلي کریمي همداشان وویل، د مېرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام چې ۹۵۰ کلي یې د هیواد په ۱۲ ولایتونو کې تر خپل پوښښ لاندې راوستي او په یادو کلیو کې ۹۸۱۰ د قرض ورکولو او سپما اتحادیې جوړې کړي، چې په کې ۳۲ میلیونه افغانۍ را ټولې شویدي او به راتلونکو کلونو کې به د ټول هېواد په ۵ زره کلیو کې ۵۰۰ زره میرمنې ترخپل پوښښ لاندې راولي.

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت په ۱۳۹۸ لمریز کال کې د کوچیانو ۵۰۰ پراختیایي شوراګانې د ولسي تړون ملي پروګرام په چوکاټ کې جوړې کړې دي، چې د کوچیانو د اقتصادي حالت د ښه کیدو لپاره ورته ۳۰ میلیونه ډالر هم ځانګړي شوي.

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ۱۳۹۹ هجري لمریز کال لپاره ٦۰۰۰ پراختیایي پروژې، ٤۰۰ کیلو متره سړک، د ۹۰۰ متره پل جوړول پلان کړي دي او د ۱۰۰۰ کیلو متره سړک ساتنه او پاملرنه به هم کیږي.